بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

لـــوړو زده کـړو وزارت

امارت اسلامي افغانستان

وزات تحصیلات عـــالی

پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه

علمي او محصلانو چارو معاونیت

کرنې پوهنځی

د هارټیکچر څانګه

# د څانګې لرلید، ماموریت، ارزښتونه او موخې

### د هارټیکلچر څانګې لیدلوری (Vision)

د هارټیکلچر ډیپارټمنټ به د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د هارټیکلچر اړوند علومو او هنر په برخه کې د پوه، ژمن او مسلکي اشخاصو په روزلو سره د پوهنتون په کچه سیال او با کیفیته ډیپارټمنټ وي.

### د هارټیکلچر څانګې ارزښتونه (Values)

۱. ټول اسلامي او ملي ارزښتونه په پام کې نیول؛
۲. حساب ورکوونه؛
۳. مسلک ته ژمنتیا؛
۴. صداقت او ریښتینولي؛
۵. له سمتي، نژادي، قومي، لساني او مذهبي تبعیض څخه لریوالی؛
۶. مسلکیتوب؛
۷. د ځواب ورکوونې توانایي؛
۸. د همکارۍ او همغږۍ پیاوړي روحیه؛

### د هارټیکلچر څانګې ماموریت (Mission)

د هارټیکلچر ډیپارټمنټ د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او باکیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

### د هارټیکلچر څانګې ستراتیژیکې موخې (Stratigic Goals)

د هارټیکلچر څانګې عمده ستراتیژیکې موخې په لاندې ډول دي:

۱. په اسلامي، ملي او مسلکي روحیه د محصلانو روزل.
۲. د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژیو او لوړو وزارت د قوانینو، لوایحو او طرزالعملونو سره سم د هارټیکلچر اړوند مسلکي پوهې تر لاسه کول او په ټولنه کې ترویجول.
۳. محصلانو ته د هارټیکلچري محصولاتو د روزنې، تولید، پروسیس او بازار موندنې په برخو کې کافي معلومات ارایه کول او په ورځنې ژوند کې تطبیقول.
۴. محصلانو ته د هارټیکلچر سکتور په برخه کې د خامو موادو د برابرولو او کروندګرو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې کافي معلومات ارایه کول.
۵. محصلین به د فراغت څخه وروسته د ټولنې په مختلفو برخو او د کار په بازار کې د مسلکي کار او غوره محصول د تولید توانایي ولري.
۶. برحال محصلینو ته د پوهې د خپرولو په اړوند سالمه لارښوونه او انګیزه ورکول؛
۷. د پوهنځي موخې تعقیبول.

د هارټیکلچر څانګې لرلید او ماموریت د څانګې په (   ) ګڼه او (                ) نېټه غونډه او د پوهنځي د علمي شورى په (   ) ګڼه او (                ) نېټه غونډه کې تائید دي.